له څه شي نه مې چې ما منع کړي یاست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې یې عملي کړئ

له ابو هريرة؛ عبد الرحمن بن صخر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمایل یې: "له څه شي نه مې چې ما منع کړي یاست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې یې عملي کړئ، ببشکه چې ستاسو څخه مخکني خلک (په دین کې) د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په اړه د خپلمنځي اختلافاتو له امله هلاک شوي دي".

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مورږ ته څرګنده کړې ده چې کله هغه له کوم شي نه منع وکړي، نو پر مورږ لازم دي چې له استثنا پرته ترې ځان وساتو، او کله چې هغه مورږ ته د کوم شي امر وکړي، نو باید تر خپلې وسې یې ترسره کړو. بیا یې مورږ ته خبرداری راکړ او مورږ یې ووېرولو چې د تېرو امتونو په څېر نه شو، هغوی چې له خپلو پېغمبرانو ډېرې پوښتنې کولې او ورسره یې د هغوی مخالفت کاوه، نو الله جل جلاله په ډول ډول عذابونو او تباه سره مجازات کړل، نو په کار ده چې مورږ د هغوی په څېر نه شو، تر څو داسې هلاک نه شو لکه هغوی چې هلاک شوي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66517